ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**



**ډاکټر قدرواحد (سمندریوسفزے)**
لیکچرار پښتو څانګه ملاکنډ پوهنتون

# فنون لطیفه د خوشحال خان خټک په نظر کښې (یوه مطالعه)

**Dr. Qadar Wahid**
Lecturer Department of Pashto University of Malakand.

## A Review of Fine Arts in the Opinion of Khushhal Khan Khattak

Fine arts are the beautiful arts that can use people for expressing their feelings and emotions in an artistic way. Khushal Khan Khattak, the father of Pashto language and literature, known to the world as a man of Sword and Pen. He expresses his point of view about fine arts in his writing. Which include poetry, music, painting, sculpture and construction, etc. In this article, Khushal Khan Khattak's opinion has been presented with reference to these arts.

**Keywords:** *Khushal Khan Khattak,sowerd,pen, fine arts, poetry, music, painting, sculpture, construction.*

زیبا هنرونه یعني فنونِ لطیفه د فنونِ مفیده یا فنون متعارفه ترقیافته څانګي تصور کولے شي ـ مطلب چې هر زیبا هنر په خپله ابتداء کښې د فنون متعارفه په صورت کښې شتون لرو ـ په نورو لفظونو کښې فنونِ متعارفه په لنډو پړاونو خپل پړاؤ واچوو او زیبا هنرونو د خپل منزل په لور خپل علمي او هنري مزل دوام داره اوساتو ـ په نتیجه کښې یوه برخه هنرونه د عامو خلقو په لاسونو کښې پاتې شول او فنونِ لطیفه د لویو هستو په غېږه کښې رالوے شول ـ ځکه خو تر ننه د مفیده فنونو خوښوونکي عام خلق دي او د زیبا هنرونه مشتاقان هغه ډله ده، د چا فطرتونه چې له ازله د خپلې زیبائۍ او حساسیت له امله ورته موزون دي ـ

د متعارفه فنونو قسمونه بې شماره دي ـ لکه

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**

کلالي، اهنګري، زميداري، چمياري، نائي توب، خياطي يا ټېلرنګ وغېره وغېره ـ خو زېبا هنرونه په شمار پنځه دي: د شاعرئ فن، د موسيقئ فن، د تعمير فن، سنګ تراشي او مصوري ـ په دې زېبا هنرونو کښې اوس اضافه هم شوې ده ـ لکه اوس رقاصي، خطاطي او نقاشي هم د زېبا هنرونو په برخه کښې شمارلے شي ـ او د فنونِ لطيفه درجه او سند ورته حاصل شوے دے ـ خو ولې د نړئ په ځينو برخو کښې دغه فنون اکثر د زېبا هنرونو له شماره غورځولے شي ـ لکه په اکثرو اسلامي ملکونو کښې د ګډا فن يا رقاصي يو معيوب عمل تصور کولے شي او دغلته ورته د فنونِ لطيفه درجه او مقام نۀ ورکړے کېږي ـ خو په مغرب کښې ګډا هم د فنونِ لطيفه يو قسم دے ـ

د فنونِ لطيفه د بېلابېلو قسمونو تعلق او ربط مرزا سلطان احمد داسې بيان کړے دے ـ

"اگرچہ ہر پانچ فن بظاہر ایک دوسرے سے جدا معلوم دیکھائی دیتے ہیں اور جب ان میں سے ایک کا ذکر آئے تو دوسرے کا خیال ساتھ ہی نہیں آتا۔ کوئی شخص شاعری کے ذکر سے موسیقی یا مصوری کا تصور نہیں کر سکتا اور نہ شاعر کو موسیقی دان او موسیقی دان کو مصور یا سنگ تراش کہا جاتا ہے۔ لیکن غور کرنے سے ثابت ہوتا ہے کہ ان ہر پانچ فنون میں ایک نسبت ہے اور ان ہر پانچ فنون کا تخیل اور تصور ایک ہی اصول کے ماتحت اور ایک ہی گر کے تابع ہے۔ ایک ہی خیال سے ان کی بنیاد پڑی ہے اور ایک ہی اصول کی کشش سے فطرت نے ان کا انکشاف کیا ہے۔ ایک ہی کشش اور ایک ہی جذبہ ہے جو بعض فطرتوں کو اس طرف لے جاتا اور منسلک کرتا ہے۔"

د زېبا هنرونو اکثر مشتاقان په خپل همت او توان منزل ته رسي ـ نۀ خو د فنونِ لطيفه ماهرانو د دوي هنري رهنمائي کړي وي او نۀ څوک اوستاد د دوي حوصله افزائي کوي بلکې فطري جذبه او د ضمير استقلال رو په رو دوي هاغې

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**


اعلٰی او ممتازه مقام پورې یوسي کوم چې د فطرت استاد د اعلٰی حسن، اعلٰی شکلا، اعلٰی موزونیت او اعلٰی تناسباتو په اعتبار د دوي دپاره منتخب کړے وي ـ که خپل فطرت د دوي رهبري نۀ کوي او د دوي زړۀ او ذهن د دوي راهنما نۀ وي نو دوي به بیا د فنونِ متعارفه په عام شان حدودو کښې محدود پاتے وي ـ بیا دوي د فنونِ لطیفه منزل په خوب کښې هم نۀ شي لیدلے ـ

په فنونِ لطیفه کښې هم هغه خلقو ترقي کړې ده او نوم ئې ګټلے دے ـ څوک چې فطرتاً ددې دپاره موزون دي ـ مثلاً یو کس په محنت او دماغ سوزی په صحیح معنو کښې شاعر نۀ شي جوړیدے ـ شاعر پېدائشي وي او په خپل فطرت کښې ئې د شاعرئ سپېڅلي جذبات راوړي وي ـ هم دغه شان ځیني فطرتونه قدرتي طور د فنونِ لطیفه دپاره جوړ وي ـ هم داسې فطرتونه د فنونِ لطیفه دپاره یو خاص نسبت او تړون لري او په مقابله کښې د عامو فطرتونو دوي په خصوصیت سره په فنونِ لطیفه کښې مهارت او ملکه حاصله کړي او شهرت ورته نصیب شي ـ

د پښتو ژبې پلار خوشحال خان خټک څوک چې دنیا د صاحبِ سېف و قلم په نوم پېژني، د فنونِ لطیفه د بېلابېلو څانګو په حقله خپل یو منفرد نقطۀ نظر لري او په دغه حواله ئي په خپله شاعرئ او نثري اثارو کښې ځائے په ځائے ذکرونه کړي دي ـ راځائے چې د خوشحال بابا دغه ځانګړے نقطۀ نظر اوڅېړو ـ

د سنګ تراشئ او فنِ تعمیر په مد کښې خوشحال بابا په فني او علمي لحاظ ډېر څه نۀ دي وئیلي البته په شاعرئ کښې ئې ځائے په ځائے ذکرونه موجود دي ـ لکه د فنِ تعمیر د بنیاد په حقله یو ځائے کښې وائي ـ

عمارت لکه
خطا هسې
خطا ځې

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**



په اول ئې
چې خطا
پرېوزي
ترتيب[۲]

دغه د فنِ تعمير انجينئري اصول دي چې خوشحال بابا ورته په جامع انداز کښې اشاره کړې ده ــ دغسې دا څو شعرونه ئې په مسلسل ډول اوګورئ چې،

د جهان عمارتونو ته
نظر کړه
ځېنې نوي نوي شي
ځينې نړېږي[۳]

د دهلې د ښهر ښهٔ
شان و شوکت ؤ
لور په لور ئې ښکلې
ښکلې عمارت ؤ
ښائسته ئې بازارونه
وو د ښهر
مهيا ئې په بازار
کښې هر نعمت ؤ[٤]

د اټک په مناره به
نظر نهٔ کا
چې هغهٔ ته د دهلې
ملک څرګند وي[٥]

هومره کلې ډېر
ښهرونه
پکښې نشته يو نګار
ښهٔ
چې پکښې خواږه
ياران دي

پې ښور تر هر دیار
ښه
د سرائې قدر نور چا
نۀ زده
په خوشحال دے تر
فرخار ښۀ[٦]

فرش فروش نقش و نګار د
محلونو
کۀ بستر مې عطرناک وۀ
وار وۀ تېر شۀ
اوس ئې روخ د ملنګی د
دونهی دے
د خوشحال چې سرائې او
تاک وۀ وار وۀ تېر شۀ[٧]

د فنِ تعمیر یا د ودانې د هنر په بنیاد کښې سنګ تراشی ته هم ډېر اهمیت حاصل دے او بیا د قیمتي کاڼو د خراش تراش او د دغه کاڼو د قدر و قیمت د معلوماتو په حقله سنګ تراشي یو داسې فن دے چې انسان ئې له ابتداء نه ضرورت محسوس کړے دے او بې شماره ګټې ئې ترې پورته کړي دي ـ خوشحال بابا حمدیه انداز کښې وائي،

سر په زانو کېږده
خوشحاله راشه
قدرت ئې ګوره په
تماشه شه
لعل پېدا کا له
سخته کاڼي
خلیل پېدا کا له بت
تراشه[٨]

د سنګ تراشي ځینې د تعمیر د قیمتي فن اغاز شوے دے خو په بله خوا د بت تراشی له وجې د بت

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**



پرستی او شرک لارې هم پرانستې شوې دي چې په نتیجه کښې ئې د سنګ تراشۍ فن ډېر زیان مونده دے ـ خوشحال بابا د بت تراشۍ او سنګ تراشۍ په حقله ډېر خو څه نۀ دي وئیلي البته په کلام کښې ئې ځائے په ځائے ذکر ضرور موجود دے ـ لکه،

د بتانو په دیدن د زړۀ نشاط شي
لکه باغ پاڼې ګلونه په اوبه کا[۹]

راغلو په نړۍ نندارچي مردان زنان
هسې رنګ ولاړ وو لکه بې روحه بتان[۱۰]

چې تا منع کوي د بت په عشق کښې ورته وایه
کعبه د کاڼو ګوره ترو دې څه خلق احرام کا[۱۱]

هندو چې بت وته هسې نسکور دے
مومن مخ ایښې د کعبې په لور دے
دا دواړه توکه رسم و عادت دے
اوده عالمه مطلب څه نور دے[۱۲]

خوشحال بابا خپله شاعرۍ کښې هم د مصورۍ او نقاشۍ ذکرونه کړې دي او په نثر کښې خصوصاً په دستارنامه کښې ئې په دې حقله د خپلو خیالاتو اظهار کړے دے ـ اګر چې په دغه حقله هغوي د مصورۍ او نقاشۍ د فن جزیات او باریکۍ نۀ دي

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**


بیان کړي ولې اشارې ئې ورته ضرور کړې دي ـ په دستارنامه کښې د شکلي صورت د شبیهې یا د مصورۍ ذکر کوي ـ لیکي،

" لکه د ښې جینۍ په کاته فرحت نزهت مونده شي، هسې په شه صورت شبیه پورې حېران لکه د شکر و پیادول خله اوبه اوبه شي هسې د شې شبیه په لیدل زړۀ تاؤ تاؤ شي ـ"[۱۳]

د خوشحال بابا په دغه کتاب "دستارنامه" کښې د شلو هنرونو په ذکر کښې شلم هنر د نقاشۍ د تصویر بیان کړےدے ـ،

"دا هم عجیب و غریب دي او قلم د یوه بساطه یاران دي یا خوش نویس دي یا شۀ نقاشان دي ـ ماني او بهزاد په دا فن کښې اوستاد تېر شوي دي ـ تر اوسه یادېږي ـ بهزاد به چه صورت تصویر کړ ـ تفاوت به یې په څهره کښې نۀ وو بعینه شخص ګانه شه ـ"[۱٤]

د مصورۍ بهترینه فنپاره هغه ده کومه چې اصل ته زیاته ورته وي او ددې په مقابله کښې چې کومه فنپاره صرف نقل وي د هغې قدر او قیمت نۀ وي ـ سقراط په دې حقله وائي چې، د ټولو غوره سنګ تراش هاغه دے د چا مجسمه چې د زړۀ د اندروني افعالو بهترین اظهار وي ـ خوشحال خان خټک اګر چې د مصورۍ او نقاشۍ د فنونو خوښوونکے دے خو د فطرت د صنعت ګرۍ په مقابلې کښې دوي له کمه درجه ورکوي ـ ولې چې د خاورې نه جوړ فنکار خپله ددغه عظیم فنکار مخلوق دے،

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**


کوم چې د دوي د تخليق باعث دے ـ دغه وجه ده چې د خالق د فن په مقابله کښې د مخلوق فن زيات کامل نهٔ شي کېدے ـ د خالق صعنت ګري زياته وسيع او خوره وره ده او د ابديت رجحان لري ـ خو د بنده فنکاري به د وړې پېمانې او عارضي غوندې وي ـ خوشحال بابا د شعر په ژبه مونږ داسې پوهه کوي،

ے

صورت ګر چه ښهٔ صورت
په دېوال ساز کا
کل عالم يې په صفت
زبان دراز کا
د هغه نقاش په صنع
نظر نهٔ کا
چه له څهٔ څاڅکي نه
نقش و طراز کا
سترګې، وروځې، پوزه
نور کښېږدي په مخ
کښې
غاښ و شونډې، ژبه،
خوله سره پرداز کا
يو سر بل سر جوړ کا
دوه غوږونه
چه په دواړه اورېدنه
د آواز کا
بند په بند د لاسو
ګوتې و بله کېږدي
سر تر پايه درست
صورت سره يو راز کا
کهٔ څوک زر کتابه
اوکښي له دې بابه
کهٔ په کښل شي زر به
نور پسې آغاز کا[15]

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**

خوشحال بابا وائي چې، کله یو مصور چې ښه صورت ساز کړي نو هر څوک ئې تعاریفونه کوي ـ خو د هاغه نقاش په صنعت څوک نظر ولې نهٔ کوي چې د یو ځاڅکي نه څه څه نقش و نګار اوکړي ـ د خدائے د تخلیقاتو کمال د هغه د تخلیق په هر جز کښې جلوا ګر دے ـ که څوک دا صورت ګري او فنکاري بیانول اوغواړي نو دا به یوه نهٔ ختمېدونکے سلسله شروع شي ـ

د مصورۍ او نقاشۍ په نسبت د فنِ موسیقۍ په حواله خوشحال خان خټک په خپلو تحریرونو کښې، که منظوم دي او که منثور، ډېر څه ئې لیکلې دي ـ له دغې نه دا اندازه لګي چې خوشحال بابا د موسیقۍ د فن ډېر ذوق لرو ـ تر دې چې د دستار پسرونکي دپاره هغه د موسیقۍ هنر لکه د نورو هنرونو په رنګ اهم او لازم ګڼي ـ

په نورو لفظونو کښې داسې وئیلے شو چې موسیقي د خوشحال بابا د ژوند یوه اهمه حصه وه ـ هغه د موسیقۍ د فن او علم نه واقف ؤ ـ ځکه خو هغه دې فن ډېر زیات اهمیت ورکوي ـ د موسیقۍ په حقله اګر چې هغه پوره کتاب یا رساله نهٔ ده تحریر کړے البته د دوي په منظوم او منثور اثارو د موسیقۍ په اړه افکار خواره واره په لاس راځي ـ د موسیقۍ په حقله د خوشحال بابا ددغه خیالاتو نه دا معلومات ضرور کېږي چې ددې فن دپاره هغه رغبت او محبت ضرور لرو ـ

په دستار نامه کښې ددې فن د ابتداء او اهمیت په حقله لیکي،

"موسیقي یعني سرود ساز نغمه دا علم عمیق علم دے ـ لکه د شعر هسې بحور عروض لري ـ شپږ بحره ده د هر بحر شپږ نغمې دي ـ اختراع د افلاطون دي، نظم هم اختراع د افلاطون دي ـ په مقابل یې یو د بله اختراع کړي دي ـ

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**



> اما هر چند لوے علم دے، بیا ترجیح
> پرې د نظم دي ـ امیر خسرو دهلوي پر
> وارۀ فن کښې استاد تېر شوي دي ـ
> لدیه بابه څو بېت قطعه لري ـ ما
> حصل او شۀ بېت یې دا وه چه ترجیح
> یې و نظم ورکړې ده ـ"[۱۶]

په دې حقله اختلاف دے چې د موسیقی ایجاد وړومبے چا کړے دے ـ بعضې پوهان وائي چې حکیمانو د ققنس (ټیټارې) د آواز نه د موسیقی او راګ ایجاد کړے دے ـ (ققنس)، د قوقنوس مخفف دے، چې د یوناني ژبې ټکے دے ـ ددې مرغی مخوکه سراخ داره یعني سوری سوری وي ـ ددې د مخوکې نه جدا جدا آوازونه راووزي ـ په هندوانو کښې یو مشهور راګ "دي کپ" دے، وئیلې شي چې دا راګ هم ددغې مخوکې نه راوتې دے ـ ځینې خلک وائي چې ددې مرغی په مخوکه کښې شپږ دېرش سوري وي ـ په فارسی ژبه کښې ددې ځناور نوم "آتشِ زمن" دے ـ د زیاتو مرخینو په دې خبره اتفاق دے چې د موسیقی فن فیثا غورث یوناني حکیم ایجاد کړے دے ـ دا روایت داسې بیانولے شي چې په خوب کښې یو سړے فیثاغورث ته وائي، پاسه او د دریاب فلانی غاړې ته لاړ شه او د هغه ځاے نه یو عجیبه علم حاصل کړه ـ فیثاغورث برابر درې ورځې دغه غاړې طرف ته لاړو ولې د هغه ځاے نه ورته هیڅ په لاس ورنۀ راغله ـ کله چې په درېمه ورځ هغه مایوسه واپس راروان ؤ نو د دریاب په دغه غاړه هغه څو اهنګران (لوهاران) په متناسب طریقه د څټک ګزارونه وروکولو سره اولیدل ـ حکیم موصوف په دې آوازونو غور اوکړو او په دې کښې یې د ګڼ شمېر قسمونو متناسبات معلوم کړل ـ بیا یې ددې متناسبه آوازونو مطابق یوه آله جوړه کړه ـ د ځینو پوهانو دا خیال دے چې دا فن داؤد علیه السلام ایجاد کړے دے ـ ځکه خو د

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**


هغوي خوږ غږ او لحنِ داؤدي ضرب المثل دي ـ د زبور کتاب په باب ۴۰ آيت ۳ کښې داسې ليکلي شوې دي: "هغهٔ (خدائے تعالیٰ) زما په خوله کښې يوه نوې سندره (گيت) واچوله، د څهٔ نه چې زمونږ د رب حمد اوشو ـ" زبور بالکل راگ راگ دے ـ او په راگ کښې دا په ښهٔ شان لوستلې کېدے هم شي ـ د حضرت داؤد عليه السلام خوږ غږ او خوږه غاړه د هغوي يو فطري قابليت وو ـ[17]

خوشحال بابا په دغه حقله ليکي:

"خيلي سقيم فطرت به وي چه دا حظ پکښې نهٔ وي ـ په دا آواز اوښان مست شي، د صحرا هوسۍ پرې بې هوشه شي، هغه به څرنگ سړے وي چې په سرود به يې حالت حاصل نهٔ شي ـ هغه چې پرې انکار کا هومبره فکر خو دې وکا چې د داؤد پېغمبر صوت معجزه وه، کنه مرغونه به ددهٔ په آواز له آسمانه راپرېوتل ـ او کنه سرود بد وې، معجزه به د داؤد پېغمبر نهٔ وه ـ"[18]

بره چې څومره هم روايتونه د موسيقۍ په باب کښې بيان شو دغه اکثر اعتقادي روايات دي ـ ټول خلک ددې تصديق نهٔ کوي او نهٔ ټول خلک په دې اعتبار کوي ـ نو ځکه که څوک وائي چې د موسيقۍ ايجاد يو کس يا سړي کړے دے نو دا به يوه داسې تهيوري وي چې پرې کله هم اعتبار نهٔ شي کېدے ـ په ټوله دنيا کښې راگ په څهٔ نه څهٔ رنگ کښې موجود دے، ځينې قامونو کښې ددغه روايتونو هډو څهٔ ذکر قدرې چا نهٔ دې اورېدلے ـ

خوشحال بابا موسيقي او شاعري لازم او ملزوم گڼي ـ هغوي د دې ربط او تعلق په حقله په خپل کتاب دستار نامه کښې ليکي،

"نظم او نغمه سره لازم و ملزوم دي ـ

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**



سرود د خولې لحن او آواز ته وائي
چه په خوله له حنجره آواز اوخوت شي
یا سرنا نائے شپیلی موسیقار دا
سرود دي، لکه رباب، سرینده، چار
تاره چه په لاس په ګوتو وهل شي، تر
دوله تر دف پورې د واړه آلات د سرود
دي ـ نغمه پیره ورته وایه شي ـ چې
دا کار کا هغه مغني باله شي، چه په
دا کار کښې طرب مونده شي ـ نوازنده
یې مطرب وایه شي ـ"[۱۹]

حقیقت هم دا دے چې موسیقي د کائنات آهنګ دے ـ او د ذهني سترتیا د ختمولو دپاره یوه لطیفه ذریعه ده ـ د موسیقی په حقله د خوشحال بابا یو نظر دا هم دے چې کوم انسان موسیقي نۀ خوښوي او د سرود نه محظوظ نۀ شي، هغه انسان د ژوند د خوږو نه بې خبره دے ـ داسې خلق د خوشحال بابا په نظر کښې کور ذوق دي ـ

راځائے چې د خوشحال بابا د منظوم کلام نه د موسیقی په حقله ملغلرې راټولې کړو ـ

چې د ښکلو په لیدل
نۀ وي محظوظ
د سرود په اورېدل نۀ
وي محظوظ
چې حاصل یې د خپل
یار نندارہ نۀ وي
په ګلزار یې سوخته
دل نۀ وي محظوظ
کۀ شېخان که زاهدان
که عابدان دي
په دا خپل عمر به تل
نۀ وي محظوظ[۲۰]

ے

شېخ ملا د زما غم په
بها نهٔ خوري
چې ر باب او سرينده
غو ندې غمخوار شته[21]

کله چې شېخ او زاهد زمونږ خوشحال د موسيقۍ نه د محظوظ کېدو نه منع کوي نو خوشحال بابا ورته ډېر په جرات سره دغه سوال مخې ته ږدي چې، ے

نے چې واهه شي وائي
عذاب دے
چې غيبتونه کړے مگر
ثواب دے
غيبت تر زنا نه
تېرے يادېږي
نے منع شوے په کوم
کتاب دے[22]

خوشحال بابا د خپلې خوشحالۍ د وختونو په ذکر کښې وائي،

د خوشحال د خوشحالۍ
وخت هم دا دے
چې رباب سرينده جوړ
سره غږيږي۲۳

ے

په جهان کښې دي دوه
توکه
ښهٔ آواز دو يم ښهٔ مخ
چې لري دا دواره توکه
د هغو کسانو سخ۲۴

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**



ے

ښهٔ آواز که د بربط د
موسیقار دے
یا د چنګ و مغني یا د
مزمار دے
د رباب د چار تارے یا
د بل تار دے
ما وے دا ستا د چوړاؤ
ښهٔ آواز دے۲۵

ے

د محفل ښائست په څهٔ دے
په نغمه او په شراب
له شرابو مې توبه ده
زهٔ مهې یم نغمه آب

چې یې سوز نهٔ وي له
سازه
یا یې سر له سرو نازه
د ژوندون راحت یې کوم
دے
راته اووایه همرازه
غم مې واړه تار په تار
شي
د هر تار له ښهٔ آوازه
زما لاس له کاره ووځي
چې په کار کښې شي
شهبازه۲۶

اوس راځو د شاعرۍ د فن په حقله د خوشحال
خانګړي نظر له چې د هغوي په نظر کښې د شاعرۍ
د فن څه مقام دے ــ په یو شعر کښې وائي؛

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**



راشه ګوره د خوشحال د
خــــــاطر ویـنــــــې
په بـیـاض بـانـدې چې هر
حـــــرف د کــــــلام ږدي[۲۷]

خوشحال بابا چونکې خپله یو ډیر لوے فنکار شاعر ؤ ـ دغه وجه ده چې د فنِ شاعرئ په حواله هغوي ډیر څه بیان کړے دي ـ زۀ ترې دلته د هغوي د شاهکار کتاب "دستار نامه" او د هغوي یوې قصیدې نه څو شعرونه وړاندې کول غواړم ـ
د موسیقئ په رنګ د شاعرئ فن هم خوشحال بابا د یو دستار په سرونکي دپاره لازم ګڼي ـ دغه وجه ده چې هغوي په دستار نامه کښې ددې فن په حقله ډیر څه تحریر کړے دي ـ

"ابتداء د هنر د شعر د افلاطون نه شوې ده ـ د شعر پایه لویه ده ـ د حکمت سره یاد شوے دے ـ پېغمبرانو وئیلے دے، د پېغمبرانو اصحابو وئیلے دے ـ"[۲۸]

د موسیقئ په رنګ د خوشحال بابا د شاعرئ د فن د ابتداء په حواله دغه بیان هم د منلو وړ ځکه نۀ ښکاري چې د افلاطون د خیالي ریاست د فارمولې نه شاعر بهر دے ـ بل د هغوي په ځینو مکالمو کښې د شاعرئ د فن چې کومه غندنه شوې ده نو د هغې نه هم اندازه په اسانه لګولے شو چې دا کمال فن د افلاطون ایجاد نۀ شي کېدے ـ البته د خوشحال بابا خپل نظر ددغه فن د جزیاتو په بیان کښې ډیر د قدر وړ دے ـ هغه لیکي،

"د دے خانه برانداز سینه ګداز څو تعریف و توصیف کوم، لګېدلے اور دے چې هر څۀ سره په مخه وړي ـ مېلمه

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**
ماخذ تحقیقی مجلہ

زورور دے، چې واړه وینې د لړمانه خوري ــ
پوهه دشواره ده، وئیل یې ګران دي ــ د هر چا کار نۀ دے ــ هغه دې وائي چې سخندان وي ــ د یوه یوه لفظ د اراستګی دپاره خوب په سړي حرام کا ــ ــ ــ یو یو بېت لکه د فرزند زوول هسې شولے لري ــ خدائے دې په دا رنځ څوک ګرفتار نۀ کا ــ"[۲۹]

"دا هنر چې د شعر د نظم دے ــ داخل د کسب کمال دے، اما مشق دے ــ له شعوره چې جبلي طبیعت د شعر لري شعر هغه دے ــ فنون صنعتونه یې په کسب حاصلیږي ــ که ډېر تحصیل د علم وکا صنائع بدائع د شعر زده کا چې طبیعت د شعر جبلي نۀ لري خبره به نظم نۀ کا ــ د شعر هم جبلي طبیعت بویه هم یې هم علم د صنائع بدائع بویه چې واړه زده کا سوائے تر دا نمک شیرین د شعر تعلق په درد په محبت لري، پختګي په استعمال ــ"[۳۰]

د پورته اقتباسونو نه علاوه خوشحال خان خټک چې د شاعرئ د فن د کیفیاتو او لوازماتو په باب کومه قصیده لیکلې ده ــ دغه د خوشحال بابا د قلبي وارداتو د لفظي مصوري ده ــ په دې قصیدې کښې د شعر د لیکلو په وخت د شاعر د درد او کرب نه د تېرېدو حالت خوشحال بابا داسې تصویر کوي،

زۀ د شعر په کار هیڅ
نــــــۀ یــــــم خوشـــــــحال

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**

ولې خدائے مې کړو په
غاړه دا مقال
نه په فکر نۀ په ذکر
رابرڅېر شي
ناګهانه لکه ووري د
پشکال
رنګ زما د شعر هيڅ سره
جوړ نۀ دے
لکه سپے راپسے ګرځي په
دنبال
دا خبره بده نۀ ده چا
وئيلے
په تحقيق چې شعر حېض
دے د رجال
په جهان تر شاعرئ بد
څۀ نشته
خدائے اخته مۀ کړه سړے
په دا جنجال
تفکر د شاعرئ لړمون
شين کا
د غليم دې په نصيب شي
دا اشغال
يو يې زړۀ له واړه
خلقو نه جدا شي
بل اخته وي د خپل فکر
په نکال۳۱

ددې ټولې مطالعې نچوړ دا دے چې خوشحال خان خټک د فنونِ لطيفه د همه څانګو په حقله خپل بهرپور علم لرلو ـ خو د ټولو فنونو په دغه شمېر کښې هغوي شاعرئ له ترجيح د نورو فنونو په مقابله کښې ورکوي ـ او ددې وجه هم ښکاره ده او هغه دا چې هغوي خپله يو د اعلٰی پائې شاعر ؤ ـ د شاعرئ د همه رموزو نه خبر هم ؤ او ددے فن رياضت ئې هم کړے ؤ ـ

حوالې

١ احمد، مرزا سلطان، فنونِ لطیفہ، مکتبہ جمال لاھور، ۲۰۰۹ء، ص ص ۱۵،۱٦

۲ خټک، خوشحال خان، د خوشحال بابا کلیات، سمونه، مقدمه حاشیه، تشریحات او فرهنګ، پروفېسر ډاکټر یار محمدؐ مغموم خټک، یونیورسټي بک ایجنسي خېبر بازار پېښور، چاپ کال ۲۰۱۶ء، مخ ۵۰۳

۳ هم دغه، مخ ۷۸۸

٤ هم دغه، مخ ۲۳۴

٥ هم دغه، مخ ۸۱۴

٦ هم دغه، مخ ۷۰۸

۷ هم دغه، مخ ۷۴۲

۸ هم دغه، مخ ۳۴۲

۹ هم دغه، مخ ۴۹۱

۱۰ هم دغه، مخ ۱۰۳۰

۱۱ هم دغه، مخ ۴۹۹

۱۲ هم دغه، مخ ۴۶۴

۱۳ خټک، خوشحال خان، دستارنامه، تحقیق، سمونه او حاشئې پروفېسر ډاکټر یار محمدؐ مغموم خټک، یونیورسټي بک ایجنسي خېبر بازار پېښور، ۲۰۰۵ء، مخ

١٤ هم دغه، مخ ۱۴۵

۱۵ خټک، خوشحال خان، د خوشحال بابا کلیات،مخ ۴۷۲

۱٦ خټک، خوشحال خان، دستارنامه، مخ ۱۳۷

۱۷ احمد، مرزا سلطان، فنونِ لطیفہ، مکتبہ جمال لاھور، ۲۰۰۹ء، ص ۵۲

۱۸ خټک، خوشحال خان، دستارنامه، مخ ۱۳۸

۱۹ هم دغه مخ، ۱۳۷

۲۰ خټک، خوشحال خان، د خوشحال بابا کلیات،مخ ۶۰۱

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, 2021(Issue III, July to September)**



٢١ هم دغه، مخ ۶۱۰
٢٢ هم دغه، مخ ۴۵۹
٢٣ هم دغه، مخ ۹۰۷
٢٤ هم دغه، مخ ۱۰۰۹
٢٥ هم دغه، مخ ۱۰۴۶
٢٦ هم دغه مخ ۵۸۳
٢٧ هم دغه، مخ ۷۷۹
٢٨ خټک، خوشحال خان، دستارنامه، مخ ۳۳
٢٩ هم دغه، مخ ۳۳
٣٠ هم دغه، مخ۳۴
۳۱ خټک، خوشحال خان، د خوشحال بابا کلیات،مخ ١٥٨